

# د کاري ځواک د نوښت او فرصت قانون (WIOA)

له خلکو سره مرسته کوي ترڅو
د کار د ترلاسه کولو لپاره له
سیالۍ ډک واوسي!

# ولې WIOA؟

مهرباني وکړئ په ياد ولرئ چې: WIOA د قضيې د مديريت برنامه ده او د دندې له مشاور سره ستاسو همکارۍ ته اړتيا لري.

- دغه برنامه په دنده باندې ګمارل نه دي (موږ نه شو کولی ستاسو لپاره دنده يا کاري مرکه مهالوېش يا وټاکو. موږ کولی شو تاسو هغو شرکتونو او نندارتونو ته ور وړاندې کړو چې موږ د مرکې د امکاناتو ته د ودې ورکولو لپاره ستاسو د ملاتړ په پار ورسره اړيکې لرو).
- "ملاتړي خدمات" د يادو خدماتو د ټولګې يوه برخه ده، دوی په انفرادي ډول شتون نه لري. د مرستې لکه مالي تمويل، د ديپلوم اړوند ارزونې يا کتابونو د ترلاسه کولو لپاره بايد، تاسو د قضيې مديريت او د کارموندنې/روزنې په فعاليتونو کې برخه واخلئ.

## ولې د WIOA برنامې ته بايد غوښتنليک وسپارئ؟

- د انفرادي مسلک اړوند پلان ګذاري
- د لنډ مهاله روزنې د اسنادو لپاره مالي مرسته
- ښايي د شتون په صورت کې، د دندې پرمهال د روزنيزو تجربو يا د تادیې اړوند د روزنيزو دندو لپاره وړ ياست.
- ملاتړي خدمات: ملاتړي خدمات لکه د ديپلو اړوند ارزونه، د ازموينې فيس، کتابونه يا د کار يا روزنې لپاره وسايل

# عمومي خدمات د هرچا لپاره د لاسرسي وړ دي

اندېښنه مه کوئ:
د Virginia Career Works اداره کې ګڼ شمېر خدمات شتون لري چې تاسو ته په هغه صورت کې هم د لاسرسي وړ دي حتی که تاسو WIOA ته غوښتنليک هم نه سپارئ.

ځيني هغه خدمات چې تاسو يې کولی شئ د WIOA له غوښتنليک پرته په خپله ترسره کړئ:

- د خلص سوانح يا سي وي د روزنې د ليدژمنې لپاره نوم ليکنه وکړئ
- د مرکې د چمتو کولو يا تمريني کاري مرکې په موخه د ليدژمنې لپاره نوم ليکنه وکړئ
- د دندې له مشاور يا د کار موندنې د سرچينې له کارپوه سره خبرې وکړئ
- د کار موندلو لپاره په اړونده مرکزونو کې شته کمپيوټرونه، د کاپۍ د چاپ ماشينونه او تجهيزات وکاروئ
- په ورکشاپونو، د دندې په ننداريتونونو، او د کارموندنې په مراسمو کې ګډون وکړئ.



"تاسو کولی شئ تل د خپلې دندې لټون سمدلاسه د يوې ليدژمنې د نوم ليکنې يا د مرستې لپاره يوه مرکز ته د تګ له لارې پيل کړئ.

موږ درته سپارښتنه کوو چې تاسو هغه مهال چې ستاسو د WIOA د غوښتنليک لپاره انتظار باسئ، دغه چارې پيل کړئ."

# WIOA څه ډول له تاسو سره د کار لپاره په چمتووالي کې مرسته کوي

په دنده ګمارنه!

- د شتون په صورت کې تادیه لرونکو روزنیزو چارو یا د دندې پرمهال روزنې ته راجع کول
- شرکتونو ته مو توصیه کول
- د دندې د ساتنې روزنه

ملاتړي خدمات

- کتابونه
- ازموینې
- وسیلې
- لباسونه

مهارتونه او اړونده اسناد

- روزنه او اعتبارونه

د دندې لارښود

- د دندې ارزونه: زما لپاره کومه دنده غوره ده؟
- د کاري مرکې لپاره چمتووالی
- د خلص سوانح یا سي وي بیاکتنه
- د شرکت اړوند مرجع ګانې
- د دندې اړوند ارزونې
- د دندو د بازار بیاکتنه

# څوک یې
# ور دي؟

ورټوب - بالغ او DW

- عمر (له 18 کالو پورته)
- د کار کولو د اجازې درلودونکی

بالغ

- اسناد: عامه مرستې یا کم عاید تاسو ته لومړیتوب درکوي
- دوی ښایي ستاسو د کورنۍ د اندازې غوښتنه وکړي

د WIOA د نویو ځوانانو برنامه

- عمر (له 17 تر 24 کلن)
- اوسمهال یې په عالي لیسه یا کالج کې شامل نه وي
- د کارموندنې لپاره اضافي خنډ لري

# ایا WIOA ستاسو لپاره مناسبه ده؟

ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د دې په اړه واضح تمې لرئ چې ایا WIOA ستاسو د غوښتنلیک مخکې ستاسو له اړونده موخو سره سمون لري.

که تاسو دې پوښتنو ته د "نه" ځواب ورکړئ، د WIOA د قضیې مدیریت ښایي درته ښه انتخاب نه وي.

که د WIOA د قضیې مدیریت ستاسو لپاره مناسب نه وي، تاسو لاهم کولی شئ په وړیا ورکشاپونو کې برخه واخلئ او د خلص سوانح یا سي وي او کاري مرکې په برخو کې د مرستو د ترلاسه کولو لپاره د مرکز د کاري ډلې له غړي سره لیدنې ولرئ!

ایا دا له تاسو څخه استازیتوب کولی شي؟

- ❑ تاسو اوس کار کولو ته چمتو یاست، یا په راتلونکو 2 میاشتو کې
- ❑ تاسو په کافي اندازه په انګلیسي ژبه داسې خبرې کوئ چې په روزنیز کورس کې برخه واخلئ او له یوه شفاهي ژباړونکي پرته له نورو سره خبرې اترې یا مفاهمه وکړئ
- ❑ تاسو غواړئ یو غوښتنلیک بشپړ کړئ او د کار د اجازې او عایداتو اسناد له موږ سره شریک کړئ
- ❑ تاسو لېواله یاست چې د مسلک ارزونه بشپړه کړئ او په ورکشاپ کې ګډون وکړئ چې څنګه خپلې خلص سوانح یا سي وي او د کاري مرکې مهارتونو ته وده ورکړئ
- ❑ تاسو لېواله یاست چې د کارموندنې د قضیې له مدیر سره لږترلږه په میاشتنۍ ډول اړیکه ونیسئ، او د دندې له ترلاسه کولو وروسته د یو کال لپاره تازه معلومات تعقیب کړئ
- ❑ تاسو وخت لرئ چې د مهارت لرونکي دندې په لټه کې شئ (نه پرچون یا Uber/Lyft):
ځیني وختونه، خلک سمدستي عایداتو ته اړتیا لري. که ستاسو موخه سمدستي د عاید ترلاسه کول وي پرته له دې چې کومه دنده وي، زموږ د مرکز خدمات کولی شي له تاسو سره د قضیې له مدیریت پرته په چټکۍ سره مرسته وکړي. د قضیې مدیریت د ښه معاش او مسلک له فرصت سره د کار موندلو یا چمتو کولو لپاره ستاسو په خدمت کې دی.

• لارښوونه: که تاسو د دندې توضیحات وګورئ چې تاسو غواړئ د دې لپاره غوښتنه ورکړئ یا یو داسې سند غوره کړئ چې تاسو یې نه لرئ، که څه هم تاسو یې نوره تجربه او شرایط پوره کوئ - WIOA ښایي ستاسو لپاره مناسبه وي.

# WIOA د کاري ډلې يوه اداره نه ده

WIOA نه شي کولی تاسو ته دنده درکړي يا ستاسو په استازيتوب يوه کاري مرکه مهالوېش کړي. موږ تاسو ته د لارښوونې، د روزنې اړوند په مالي تمويل کې مرسته کوو، او تاسو هغو شرکتونو ته ور وړاندې کوو چې په متحده اياالاتو کې ستاسو د دندې د لټون په برخه کې اغېزمن ثابتېدلی شي.

د کاري ډلې په اداره کې، تاسو له يوه داسې ګمارونکي سره مرکه کوئ چې له ګڼ شمېر داسې شرکتونو سره تړاو لري چې دوی ته د ګمارنې لپاره د کانديدانو د موندنې په موخه پيسې ورکوي. که تاسو د دندې لپاره وټاکل شوئ، دوی به تاسو ته د کارځای يا بل شرکت سره کاري مرکه برابره کړي. دوی ښايي لنډمهاله يا اوږدمهاله دندې ولري.

تاسو اړتيا نه لرئ چې په WIOA کې د کاري ډلې له ادارې سره د کار کولو لپاره ځان شامل کړئ. تاسو کولی شئ په خپله ورته غوښتنليک وسپارئ. د سيمه ييزو ادارو بېلګې دلته ذکر شوي دي.

# ایا تاسو له روزنې سره علاقه لرئ؟

- WIOA د کالج له ډیپلومونو پرته، یوازې د لنډ مهاله روزنې تمویل کوي. WIOA کولی شي یوازې د لنډ مهاله روزنې لپاره پیسې ورکړي (د بېلګې په توګه هغه روزنې چې موده یې له 2 ورځو تر 6 میاشتو ترمنځ وي). روزنه باید د فراغت سند یا اعتبار ولري. د مالي تمویل حد یې ښایي د هر شخص پر سر 3,500 امریکایي ډالره وي.

- په ځینو مواردو کې، دا به د دندې موندل چټک کړي که تاسو په داسې یوه برخه کې روزنه ترلاسه کړئ چې مخکې له مخکې یې څه ناڅه تجربه لرئ. ځینې بېلګې دا دي:
  - د روغتیایي چارو تصدیق شوی مرستیال، د وینې اخېستونکی، یا روغتیایي تخنیکر
  - Quickbooks، د بشري سرچینو د مدیریت سند
  - د پروژې مدیریت
  - CompTIA A+, Network+, CCNA, او د IT نور اسناد

- نورې روزنې کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي چې خپل مسلک ژر تر ژره بدل کړئ، تر هغه چې دوی له برنامې سره سمون ولري. ځینې بېلګې دا دي:
  - د CPR تصدیق، تصدیق شوی د نرس مرستیال، د درملو تخنیکر
  - د اداري چارو د مرستیال سند
  - د CDL موټرچلونه
  - نور کسبونه لکه برقي، نلدوان، ساختماني، او تهویې یا ایرکنډیشن کارګر



د لا زیاتو معلوماتو لپاره، هره اوونۍ د پوښتنو لپاره د معلوماتو د ورکولو ناسته شتون لري.

# د روزنې په اړه: باخبره اوسئ چې

- د WIOA د ټولو غوښتونکو لپاره د روزنې تمویل خپلسری نه دی. روزنه بنايي په هغه صورت کې تصویب شي که چېرې دا ستاسو لپاره د کار ترلاسه کولو امکان ډېروي، او ستاسو وړتیاوې او د کار بازار له اړتیا سره سمون لري. د بېلګې په توګه، شرکتونه بنايي د معلوماتي ټکنالوژۍ د بستونو لپاره هغه نوماندان ونه ګماري څوک چې تصدیق لري خو تجربه نه لري. له همدې امله، یواځې هغه کسان چې د معلوماتي ټکنالوژۍ اړونده شته تجربه لري ورته سپارښتنه کیږي چې د معلوماتي ټکنالوژۍ اړوند نورې روزنې ترلاسه کړي.

WIOA د کارموندنې يوه برنامه ده. د روزنې مالي تمويل به د هغو موضوعاتو لپاره ورکول کیږي چې د دندې په موندلو کې مرسته کوي.

- WIOA اداره په خپله درس نه ورکوي او نه هم اړونده روزنې په لاره اچوي. که چېرې غوښتنليک ومنل شي، WIOA به اړونده فیس په مستقیم ډول روزنيزې مؤسسې ته ورکړي چې زموږ په تصویب شوي لېست کې راغلې وي. موږ کولی شو یواځې د هغې روزنې لپاره پیسې ورکړو چې د ایالت له لوري تصویب شوي وي، نو ستاسو د خوښې روزنې موضوع یا د زده کړې مرکز بنايي زموږ په لېست کې شتون ونه لري.

# د WIOA بالغ/DW د خدماتو پروسه

## 01
### د غوښتنلیک کتنه

- د WIOA غوښتنلیک بشپړ او اړونده اسناد راټول کړئ. بریښنالیک ته یې مه لیږئ.
- د غوښتنلیک د کتنې لپاره یو غیر حضوري یا حضوري لیدژمنه مهالویش کړئ
- له کتونکي سره لیدنه وکړئ

## 02
### د غوښتنلیک راتلونکي پړاوونه

- د CareerScope – د کار د ورتیا او د علاقې ارزونه بشپړه کړئ
- د دندې د بازار د معلوماتو څېړنه وکړئ
- اسنادونه یې بشپړ کړئ

## 03
### د WIOA د قضیې له مدیر سره لیدنه وکړئ

- که مو غوښتنلیک ومنل شي، تاسو ته به د قضیې یو مدیر وګمارل شي څوک به چې تاسو ته بریښنالیک ولیږي.
- د کارموندنې د موخو په اړه ورسره خبرې اترې وکړئ
- د CareerScope د پایلو په اړه ورسره خبرې اترې وکړئ
- په خلص سوانح یا سي وي بیاکتنه وکړئ
- د روزنیزو اختیارونو په اړه ورسره خبرې اترې وکړئ (که مناسبه وي)

## 04
### د کار په لټون کې مرسته

- روزنه بشپړه کړئ / اسناد یې ترلاسه کړئ
- په کاري ورکشاپونو، د دندې په نندارتونو کې ګډون وکړئ، د VCW په مرکزونو کې د کارموندنې له کارپوهانو، د دندو له پراختیا ورکوونکو سره لیدنې وکړئ
- د قضیې له مدیر سره منظمې ناستې
- د دندې ساتنه

## 05
### پیداکړئ

- د کارموندنې بریالیتوبونه یا د دندې په برخه کې د اضافي ملاتړ اړتیاوې د دندې د ساتنې له کارپوه سره شریکې کړئ.
- د یادې برنامې دغه پړاو د څټکې میاشتینۍ نوم لیکنې سره 12 میاشتې موده لري.

# همدا نن غوښتنلیک وسپارئ!

## درې ساده ګامونه

1. د ورځتیا د ټاکلو لپاره نوم لیکنه وکړئ
2. د WIOA غوښتنلیک بشپړ کړئ او د ورځتیا اسناد راټول کړئ
(درسره ویې ساتئ خو تر هغې یې بریښنالیک ته مه لیږئ ترځو یې چې درڅخه غوښتنه نه وي شوې. دا ستاسو د خوندیتوب لپاره ده.)
3. د ورځتیا د ټاکلو په کتنه کې ګډون وکړئ

[VCWNorthern.com/WIOA](VCWNorthern.com/WIOA)





آیا په اړه یې کومې
پوښتنې لرئ؟